دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مســــــتقل انتخابات

دافغانستان اسلامــي جمهوری دولت
د ټــاکنــوخپلـــواک کمیسیـــون

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Election Commission**

---

## د ټاکنو خپلواک کميسيون پرېکړه ليک

**شمېره:** ۴۸ـ ۱۳۹۳

**موضوع:**
۱. د رأيي ورکوني د ۴۰۵ محلونو د څېړنې پايلې چې د فني ستونزو له امله بياڅېړنې ته معرفي شوي وو.
۲. د پايلو په ځينو فورمو کې د ورته لاسليکونو په اړه د اصلاحاتو او همپالنې او تحول او تداوم ټاکنيزو ټيمونو ادعاوې.

**مرجع:** د ټاکنو خپلواک کميسيون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ کال د وږي۲۳ مه نېټه ( د ۲۰۱۴ کال د سپتامبر ۱۴مه)د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزي دفتر.

**حاضر غړي:** ښاغليډاکتر احمد يوسف نورستانی، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي،آغلېګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني،ښاغلی محمد عزيز بختياري، ښاغلی قاضي سليمان حامد، آغلې ليلا احراري و آغلې شريفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کميسيون د دغه کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون د دندو، تشکيلاتو او صلاحيتونو قانون د ۱۳ مادې او د ټاکنو قانون د ۵۸ مادې د مندرجو حکمونو او د ( ۳۳ او ۳۷ ) شمېرې پرېکړه ليکونو پر بنسټ؛

۱ . د رأيي ورکوني د ۴۰۵ محلونو په اړه چې د فني ستونزو له امله بياڅېړنې ته استول شوي وو، پرېکړه وکړه چې:

۱. د رأيي ورکوني ۴۴ محلونه چې د تفتيش په پايله کې هيڅ ډول بې نظمي او ستونزه په کې ونه ليدل شو، نورمال دي او که ستونزه نه لري، نو له دې کبله دې پروسس شي.

۲. د رأيي ورکوني د ټولو ۸۵ محلونو بيا شمېرنه تأييد شوه.

۳. د ۲۷۶ محلونو ټولې رأيې د لاندې لاملونو له امله باطلې شوې:

- د رأيي ورکوني دوه محلونه د رأيي ورکوونکيو ليست د نه موجوديت او يا سپين والي او په رأيي پاڼو کې د ۳۳ سلنه ستونزو له امله .

- د رأيي ورکوني شپږ محلونه د رأيي پاڼو د نه موجوديت او يا دا چې په صندوق کي دننه ټولو پاڼو ستونزې درلودې.
- د رأيي ورکوني ۲۹ محلونه چې مخکې د کميسيون له خوا باطل شوي وو.
- د رأيي ورکوني ۱۲ محلونه له دې امله چې هيڅ رأيي په کې نه وې اچول شوې.
- د رأيي ورکوني ۲۲۷ محلونه له ولايتي دفترونو څخه د رأيي پاڼو صندقونو د نه ترلاسه کولو، د رأيي ورکوني د محلونو او مرکزونو د شمېرو د نه وضاحت او يا په يوه صندوق کې د څو مرکزونو او محلونو رأيو د يو ځای والي او يا په صندوقونو کې دننه د حساسو توکيو د تخريب له امله.

۲ . د ټاکنو خپلواک کميسيون د پايلو فورمو په ۲۹۲۹ کاپي ګانو کې د ورته لاسليکونو په اړه د ټاکنيزو ټيمونو د ادعاوو په اړه چې ( د پايلو ۲۲۰۰ فورمې د اصلاحاتو او همپالني ټيم له خوا او ۷۲۹ فورمې د تحول او تداوم ټاکنيز ټيم له خوا معرفي شوې) په څلورو کټه ګوريو کې په لاندې توګه پرېکړه وکړه:

۱. د رأيي ورکوني ۱۲۴۶ محلونه د ورته لاسليکونو په ادعاوو کې نه شاملېږي، نو له دې کبله دې په څېړنه کې شامل شي.

۲. د رأيي ورکوني په بېلابېلو مرکزونو پورې اړوند ۷۸ محلونه دې چې ورته لاسليکونه په کې د ښکاره درغلی ښکارندوی دي، باطل شي.

۳. په ۱۱۲ محلونو کې د ور ته لاسليکونو ادعا رد شوه، ځکه چې د مرکزونو په کچه ورته لاسليکونه ونه ليدل شول او يا دغه ورته والي د توجيه وړ وو.

٤. د هېواد د ۱۷ ولايتونو د ۴۶ ولسواليو په ۱۴۹۳ محلونو پورې اړوندې ادعاوې رد شوې، ځکه چې د رأيي ورکونې مرکزونو په کچه هيڅ ډول ورته لاسليکونه موجود نه وو.

| له پرېکړې سره مخالف | د غړيو نومونه | له پرېکړې سره موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالی اځکزۍ | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلې ليلا احراري | |
| | آغلې شريفه زرمتی وردک | |